# مناسب نه دي چې په اور دی خلک سوځول وکړي ځکه په اور عذاب ورکول یوازې د اور د مالک کار دی

له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې: موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کې و، هغه د حاجت رفع کولو لپاره ولاړ، نو موږ یوه مرغ‌ ولیدله چې دوه بچیان یې درلودل، موږ یې بچیان را ونېول، نو مرغ‌ راغله او ځان یې د خپلو بچیانو پر سر غورځاوه. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی او ویې ویل: "چا دغه مرغ‌ د بچیانو په اخستلو سره زورولې ده ؟ خپل بچیان یې بیرته ورکړئ." همدارنګه، هغه د میږیو ځاله ولیده چې موږ سوځولې وه، نو ویې فرمایل: "دا چا سوځولې ده؟" موږ وویل: "مونږ." هغه وفرمایل: «مناسب نه دي چې په اور دی خلک سوځول وکړي ځکه په اور عذاب ورکول یوازې د اور د مالک کار دی."

[صحیح دی] [ابو داود روایت کړی دی]

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وایي چې هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کې وو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د حاجت رفع کولو لپاره لاړ، صحابه کرامو یې یوه مرغ‌ ولېده چې دوه بچیان ورسره ول، نو دواړه یې ترې واخېستل، پدې وخت کې مرغ‌ د فریاد په توګه خپل وزرونه غوړول راغوړل، ځکه چې بچیان یې ترې ورک شوي وو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم چې راغی ویې ویل: چا یې د بچیانو په اخېستلو خفه کړې او ویرولې ده؟ بیا یې حکم وکړ چې بچیان یې بیرته ورکړل شي. "بیا یې د مېږیانو یوه ځاله ولیده چې په اور سوځول شوې وه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا چا سوځولی ده؟ ځینو صحابه وو یې وویل: موږ. هغوی ته یې وویل: هیچاته روا ندي چې ژوندي مخلوق ته په اور سره سزا ورکړي، پرته له الله څخه چې پیدا کوونکی یې دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8892

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee